روښان خادم
۲۰۱۹/۰۱/۱۹

# نشنلیزم او پتروياتيزم

د روان کال د دسمبر د میاشتی په پنځلسمه نیټه زما یوه لیکنه چې په فیسبوک، او افغان جرمن ان لاین کښی خپره شوی وه او ډیرومعززو دوستانو وربادی خپل مثبت نظرونه لیکلی وو، چې د سمبولیزم د سبک دورند غښتلی شاعر او پیاوړی لیکوال آنجنیر صاحب سلطان جان کلیوال هم په دغه ډله کښی زما د دی لیکنی تقدیرکړی او په دغه مقاله یی مفصلی دوه لیکنی وکړی چې وروستی لیکنه یی بیګاه شپه ما د فیسبوک په مخ ولوستله د دوو سیاسی مفاهیمو (ناسیونالیزم او پتروياتيزم) په باب یی کړی وه . د کلیوال صاحب دغه لیکنی په کامل احترام سره غواړم ځو کرښی ولیکم

کلیوال صاحب د پورته دوو سیاسی مفاهیمود تفاوتونو په باب ډیر ښکلی مطالب وړاندی کړی دی خو زما له نظره کوم دلایل چې هغه د هندی لیکوال ( شوبهیت ماتور) په حواله وړاندی کوی د ناسیونالیزم سره ډیه نه لګوی بلکی د فاشیزم په تعریفاتو او ممیزاتو ښه زیاتونه ده

د دغه دوو مفاهیمو د ښه پوهیدو په خاطر په لنډه توګه د هغو د بنیاد پیژندنه یو ضرورت دی. ناسیونالیزم چې په انګلیسی کښی ورته (نشنلیزم) وایی د دوو انګلیسی ګلمو (نیشن) او(ایزم) څخه جوړ شوی مرکب نوم دی نیشن د ملت په معنی او ایزم هم رویش، مکتب اوپالنه معنی ورکوی نو داسی ویلی شو چې ( نشنلیزم ) یعنی ملت پالنه ، نو اوس که لوستونکی د ملت اصلی مفهوم ته په دقت وګوری نو د ملت اجزا او د ملت جوړیدل هغه څیزونه نه دی چې د ښاغلی (ماتور) لیکنه دی ورسره ډه ډه ولګوی د مثال په توګه کلیوال صاحب په خپله لیکنه کښی د هغه په حواله داسی لیکی: (د نشنلیزم اصلی مفهوم داسی دی چې واحد کلچری جوړښت ته د ژبی او فرهنګی میراث په ګډون د اصل په سترګه ګوری)

زه داسی فکر کووم چې ښاغلی لیکوال دی ته نه دی متوجه شوی نشنلیزم په ملت پالنه ولاړ او جوړشوی دی نو که یو ملت د لیکوال د تعریف پر بنا واحد کلتوری جوړښت، ژبه او فرهنګي میراث د نشنلیزم د اصل په سترګه ګوری نوڅه؟ بده خبره نه ده پیښه شوی .او که یو ملت ځانته په درنده سترګه ګوری او نورملتونو او خلکو سره مشکل نه لری نو په دی کښی بدی څه ده؟ آیا تاسوبه په ټوله دنیا کښی داسی یو ملت پیدا کړی چې هغه دی ځان ترنوروکم او ټیټ وګنی په دغه موضوع ما ډیر پخوا یوه لیکنه کړی وه چې یو څه ورڅخه دلته رانقلووم:

«دوستانو سلام.

پرون د اګست د میاشتی په 2016/28 نیټه می یو ډیر مهم خوږ او د اهمیت وړ بحث په باره کښی چې د محترم نثار صالح صاحب او ښاغلی صابر صاحب تر منځه د نشنلیزم او افراطیت په برخه کښی روان و او نورو دوستانو هم پری لیکل کړی و یو څو کرښی ولیکلی خو بد بختانه د اپ لود په وخت کښی ورکی شوی خو دادی د وعدی سره سم بیا یو څه ستاسو د مطالعی د پاره په پورتنی موضوع لیکم. د دغه لیکنی په یوه برخه کښي راغلی دی.

نشنلیزم د ملتونو د بقا اعتلا. یووالی 'او استقلال سنګر دی. ننی دنیا د پرون د نشنلیزم له برکته جوړه شوی ده په دنیا کښی ټول ملتونه نشنلستان دی او د نشنلیزم له برکته ژوندی دی کنه سترو قوتونو او استعمار به خوړلی وای یو وخت رونالد ریګن د امریکی کانګرس ته په خبرو کښی وویل: «مونږ د دنیا بهترین ملت یو» دا خبره د امریکائی نشنلیزم نه راوتی ده .تیر کال **دیود کامرون** د انګلستان صدراعظم په خپله یوه پارلمانی وینا کښی وویل «مونږ په دنیا کښی د ډیریور حیثیت لرو نه د پسنجر» دا خبره د انګلیسی نشنلیزم قدرت ښیی د انګلیسانو هر څه د نوری دنیا نه متمایز او فرق لرونکی دی حتی خپل د سهار چای او د مازیګر ناشتا هم خاص انګلیسی ګڼی او د ژوند ټول څیزونه پکښی انګریزی دی د روس کمونستی هم د روسی نشنلیزم پر بنیاد جوړشو او ولاړو چې د روسی ژبی حاکمیت یی په خپلو مستعمراتو کښی ساده او لنډ مثال دی ' جرمنی ' فرانس ایتالیا ' ناروی ' بلژیک ' هندوستان ' ایران ' پاکستان ' ټول په نشنلیزم کلک ولاړ دی دوی په خپل نشنلیزم فخر کوی خو ما او تا ته یی افرطیت را معرفی کوی دوی ته ښه دی او نورو ته بد متأسفانه د دوهم جهانی جنګ نه وروسته د فاشیزم او نشنلیزم فرق او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تفاوت همدغه قدرتونو د خپلو لیرو او نږدی اهدافو په خاطر د منځه یووړ او هر ملی حرکت یی فاشیزم وباله چی اوس هم خلک مترردده او مبهوت دی. **نشنلیزم د افراطیت ستر دښمن دی اوهر کله که نشنلیزم افراطی شو نو بیا نشنلیزم نه دی.**
د انسان د پیدایښت سره سم د قوی او ضعیف موضوع پیدا شوی او ضعیفان خوړل شوی دی هغه څه چی په تیرو پیریو کښی ضعیف ملتونه یی د قوی په مقابل کښی ژوندی ساتلی فقط نشنلیزم دی او بس. خو داچګړه تر اوسه ادامه لری اوقوی ملتونه نه غواړی او نه پریږدی چی ضعیف او واړه ملتونه د نشنلیزم په قالب کښی سره متحد او قوی شی او هر چیرته چی داسی یو حرکت شوی په نظامی ' اقتصادی'او فرهنګی دسایسو له منځه وړل شوی دی په اوسنی زمانه کښی عراق' افغانستان' فلسطین'او لیبیا یی ښه مثالونه دی عراق چی د صدام حسین په زمانه کښی د عراقی نشنلیزم په قوی کیدو پیل وکړ دا یی حال شو افغانستان چیی د شهید سردار محمد داوود خان په وخت کښی د افغانی نشنلزم غړ پورته کړ د یوه جنتلمین اګریمنت په نتیجه کښی رانسکور شو او تر ننه ډبول کیږی»

په پورته کرښوکښی تاسوته دا ښکاری کیږی چي دا د هر ملت حق دی چي په ځان وویاړی او همدارنګه د ناسیونالیزم د دښمنانو اعمال هم څرګند دی نو زه داسی ویلای شم چي ناسیونالیزم په ملت کی جوړیږی او ملتونو په تشدد سره نشی جوړیدای. په ناسیونالیزم کښی د ملت د وګړو ترمنځه تفاونه، برترئ ، او زور له منځ ځی او ځای یووالی اوسوله ایز ژوند ته پریږدی. اوسالم ناسیونالستان په زور او قهر اتکا نه کوی.
د کلیوال صاحب د لیکنی په یوه بله برخه کښی داسی راغلی دی: («خو نشنلیزم تر ډیره حده د تیری، تاوتریخوالی او په نورو د زور زیاتی د چلونی مفهوم ارایه کوی» )
د ستر استاد علامه خادم بابا لاندی عبارت د دغه هندی لیکوال د خبرو ښه ځواب دی:
علامه خادم بابا په خپل یواثر (ټولنپال افغان مانوفست) په ۹۴ صفحه کښی د ناسیونالیزم د مبحث په یوه برخه کښی داسی لیکلی دی: **(یو روغ ناسیونالیست د دی سره ځرنګه موافقه کولی شی چی زور حق دی او هغه څوک چی کمزوری وی بلا شرطه او بی حسابه دی د هغوی سرومال وخوړل شی ) .**

د دغه هندی لیکوال د لیکنی لاندی پرګراف چي کلیوال صاحب يي نقلوی په غور سره ولولی

۱ - که په اختصار سره و وایو نو ویلی شو چی پاتریوتیزم د محبت او عاطفی د زیږیدو او پیاوړتیا په مفهوم دی او نشنلیزم د درقابت، دښمنی، کرکي او بدبینی نه سرچینه اخلی. یا داچی نشنلیزم د خپل ماهیت له مخی یو جګړه مار او قهرجن مفهوم دی او پاتریوتیزم یو سوله ایز او محبت آمیزه مفهوم.
۲- نشنلستان په عمومی توګه داسی فکر کوی چی د دوی ملت او هیواد د نورو نه لوړدی، بهتردی د قدراو احترام وړدی اونور باید دوی ته بی له دی چی د دلیل پوښتنه وکړی درناوی ولری.
۳ - خو پاتریوتستان داسی باور لری چی د دوی هیواد او ملت یو له ښو هیوادونو او ملتونو څخه دی او که وګړی یی زیار وکاری نور به هم ښه او بهتر شی. دوی د نورو سره د نیکو او دوستانه اړیکو په لرلو، د ژوندانه په لا ښه والی او بهتروالی باندی باورمن دی.
د نشنلستانو او پاتریوتستانو تر منځ یو لوی توپیر دا هم دی چی نشنلستان کم حوصله دی، خون ګرم دی، انتقاد نه منی، هر منتقد د خپل عزت دښمن ګڼی او د نوو شیانو د زده کړی سره علاقه مند نه دی. اما پاتریوتستان د پراخی حوصلی خاوندان دي، انتقاد پزیر دي، د ځان د اصلاح او رغونی سره مینه و ښدای او تل زیار کاږی چی نوی شیان زده کړی.
۴ - بلاخره نشنلستان داسی خلک دی چی په روانو حالاتو کی د مثبت بدلون سره چندان علاقه نه لری، خو ټوله زوره په تیرو وختونو اچوی او د خپل ملت په تیرو ویاړونو دومره مغرور وی چی د پلرونو او نیکونو د کارنامو له کبله ځان ورته ( که مطلق بیکاره هم وی) ډیر لوړ برینبی، دوی تل په تیرو وختو قضاوت کوی. د دوی په خلاف پاتریوتستان داسی خلک دی چی د تیرو نسلونو په نیکو کړو وړو ویاړی خو دراتلونکی ژوندانه د جوړښت د پاره هلی ځلی خپل اصلی مسئولیت ګڼی)
ماته په دغه پرګراف کښی زیاتی خبری د خندا وړ وی داسی راته ښکاری چي ښاغلی هندی لیکوال یو پټریت لیکوال دی چي د هندی تندروانو په ضد لیکنه کوی او خپل تحلیلونه د ناسیونالیزم په باب دهمدغه مصدر څخه اخلی او فکر یی تری متاثره دی. ما د هغه دا پراګراف په شمارو تقسیم کړی چي هره برخه یی د تبصری وړ ده

۱ - ښاغلی لیکوال د فاشیزم او نشنلیزم په تفاوتونو کښی ورک شوی او د فاشیزم د خصلتونو او ممیزو په چوکاټ کښی د ناسیونالیزم سره دښمنی کوی
۲ – د دغه هندی لیکوال دلیکنی د(۲) شماری لاندی عبارات د یو ټولنپوه اوسیاسی لیکوال څخه توقع نشی کیدی دومره ویل کیدای شی چي دا دهغه غلط او نادرسته برداشت دی نه ناسیونالیزم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

۳ - په دی برخه کښي دومره ویل کیدی شی چي دی خبروته حیرانی ده چی څرنګه کیدی شی یو ناسیونالیست انسان چي وطن او د وطن خلک یی بهتر وی خو د ترقی او نورو نویو شیانو د زده کړی سره علاقه و نه لری
۴ - د لیکوال دا خبره چي ناسیونالستان د خپل تیر تاریخ پوری ځانونه تړلی او ورباندی ویاړی یو حقیقت دی په دی دنیا کښی داسی څوک نشته چي دا ویاړ ونلری او که څوک یی نه لری نو هغه به مریض او بی حافظی وی . انسان د تیری زمانی پوری تړلی دی ځکه تیره زمانه د ننی زمانی د زدکړو، عبرت او ویاړ باعث دی چي نن یی د سبا جوړونه کوی.
د خبرو په پآی کښي داسی وایم چي دافغانی ناسیونالیزم تفکر د نوری دنیا د ناسیرنالیزم څخه متفاوته دی دغه تعریف مونږ په خپل تیره لیکنه کښي کړی دی چي ( افغان ملی ګرایی ) نومیږی زمونږ پوهه او برداشت د ناسیونالیزم او پتریاتیزم نه یوشان دی او د دواړو په برخه کښی یو شان عقیده لرو چي شاید نور خلک یی یو د بل نه جلا او متفاوت وګڼی خو زمونږ په فکر مترادف نه بلکه دواړه یو شی دی. خو د هر چا برداشت متفاوت او د احترام وړ دی .
د کلیوال صاحب نه مننه اوخدای وکړی چي دوستان تری استفاده وکړی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ